دمقالی لیکونکی : *ادوارد شواک ( Edward Schwarck).*
سرچینی اودخپریدو نیټه : *( دیپلومات ۲۰۱۴-۱۰-۱).*
ژباړونکی : *پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»* .

--------------------------------------------------------------------------------

# ایا چین او هند کولای شی چی دافغانستان مرستند وی شی؟

## Can China And India  Cooperate in Afghanistan?

که چیری هند اوچین  دخپل سرحدی اختلافات او سمندری  سیا لی یوی خواته پریږدی ، نوپه هغه صورت کی هغوی کولای شی چی په افغانستان کی دخپل ګډ  اهدافو درغونی سره جوګه شی .



سیاسیی کا رپوها نو اوسترا تیژستا نو په دی باور دی چی افغانستان  د مینځنی ختیځ د حالاتو  په دړوړکید و  سره دغربی حکومتونو له چم څخه وځی اودختیځی اروپا دپا ره دجګړی  په یوه نوی میدان باندی اوړی . لاکن دا امکان هم څوک نشی  ردولای  اوهغه داچی  یوشی  د یو تش ځای د ډکولو  په مخه په حرکت ولویږی ، کوم چی دهمدی دلیل په نظرکی نیولوسره چین او هند  داپریل په میاشت  کال (۲۰۱۳)  کی  خپل د حسن نیت لمړنی  دوه  اړخیز  خبرو  اترو  با ندی پیل  وکړل.  ښن جن ښنګ «Xi Jinping» تیره هفته  له دهلی څخه دخپل کتنی په مهال دهندوستان ددولتی چارواکو سره  په یوه رسمی خبرو  اترو کی  دافغانستان پر روان کشالی باندی له هراړخیز خبرو اترو څخه ورروسته دواړو خواوو دی  پریکړی  ته ورسیدل  چی  خپل  «ستراتیژیک  دیالوګ  ته  قوت  او

غښتلتیا وروبخښی »اود افغانستان دپاره د سولی ، شبا ت اود هوسا ژوند درامینځته کولو د پاره ټوکلی ګامونه را وچت کړی کوم چی دوی دواړه خپل دغه پریکړی او موافقی د(ګډ منافع ) دموافقی په نامه سره ونومول اوهریو خپل چمتو والی په دی برخه کی راښکاره کړل .

بی ویلو دی پا تی نشی اوهغه داچی هند اوچین د (۱۹۶۲) کال د خپل مینځی جګړی څخه لاتراوسه د پیچلی سرحدی لوخړی کړکیچ اود سمند ری سیا لو له امله پخپلو دوه اړخیزو روابطو کی د شک اوبد ګما نی سره چلن کوی ، اما له افغانستان څخه ددی کال په پای کی دغربی نظامی قوتونو د خارجیدو له امله دواړه هیوادونو ته دخپلي راتلونکی امنیت او دمنطقی د ټیکاودبرقرارولودپاره له هرڅه نه ضرور ګڼل کی چی پخپل روابطو باندی له سره نوی کتنی وکړی اود حسن نیت سیاست خپله کړی ، سمد ستی سوال دا نه دی چی دا ډول همکاری اوهمغاړیتوب مطلوب اووسی ،بلکه خبره دلته دادی چی ایا دغه دوه آ سیا یی غښتلی اوقوی ځواک په دی قادر دی یا ددی توان لری چی دافغانستان دراتلونکی دپاره پځپلو ګډ وهمکاریوسره داسی یوه قوی اوتلپا تی چوکاټ رامینځته کړی چی افغانستان له دغه بدمرغیو څخه خلاص شی .

دګډو ګټو همغاړیتوب : ټولو ته دا یو څرګند اومنل شوی موضوع دی اوهغه داچی دګډو ګټو له مخی ګډ همکاری اومرستی سره وده کوی ، اودهمدی استدلال په نظرکی نیولو سره چین اوهند په افغانستان کی دتروریزم دودی او دهغه دلمن د پراخید و له امله په ګډه سره دتهد ید اود ګواښ سره مخامخ دی اوهغه داچی په ډیر قوی احتمال سره د افغانستان ددولت په رانسکوریدو سره به د تروریزم لمن چین اوهند ته به هم وغزیږی اوهغو ته به یوه لویه ستونزی را مینځته کړی . هند له ډیر مخکی وختونو څخه داسلامی آماراتو دطالبانو دتهد یدا تو او ګواښونو سره څو څو واری مخا مخ شوی دی ، اوبیا په ځا نګړی بڼی دمي په میا شت په هرات کی دهند پر قونسلګری باندی د ځلورو مسلحو شبّه نظامیانو یرغل هغه پیښی څخه یادونه کوو کوم چی دغه یرغل کونکی دلښکر طیبه غړی وه چی په پاکستا ن کی سره میشته دی چی دغه نوموړی تهد ید ات اوګواښونه لاتراوسه پخبل قوت کی با قی پا تی دی .

د بلی خوا څخه چین هم دافغانستان د بی ثباطی اود نا امنی په اړه بی تفاوت پا تی شوی نه دی اوهیڅکله د تروریستا نو له ګواښ اوتهدید څخه په امن کی پاتی شوی نه دی ، نودهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره په افغانستان کی د طالبانو داقتدار په یو څه کم لسیزکی او هم دمینځنی آسیا دحکومتونو دکمزورو کړنو اوچلند په نظر کی نیولو سره چی طا لبا نو اونور تروریستانو په چین کی نفوذ ونکړی خپل سرحدونه یی کلک وتړل او لاتراوسه خپل پولی یي تر کلک نظارت لاندی ساتلی اودا ددی د پاره چی چین اوس بلکل پوه شوی چی پا کستا ن د تروریستا نو د پا ره نه داچی دامن ځای دی بلکه دا

د پاکستان مقامات دی چی د تروریستانو اړیکی دچین په سینکیانګ کی دایغور دافراطی جګړه مارو سره نښلوی.

د یا د ونی بل وړ مطلب دادی چي افغانستان دهند او دچین دواړو هیوادونو له نظره په هر اړخیز بڼه د منطقی یوه ډیره ستراتیژیکی هیواد ګڼل کیږی اوبیا په ځانګړی بڼی دپیکنګ له نظره د«وریښمین» دلاری رغونه کوم چی دهغه هیواد اقتصا دی کمربند جوړوی د ښیجن پنګ (Xi Jinping) تر زعامت لاندی د هغه هیواد د خارجی سیاست مهمه برخه جوړوی اودا ځکه چي د«وریښمین لاره » یو ه سرحدی لوژیستکی اډ نه ( زیر ساخت) شمیرل کیږی چی دچین ولوید یزبرخه دمرکزی آسیا شتمنو سیمو سره نښلوی اوپه نهایت کی اروپا یی مارکیټ ته لاره پرانیځی .اوپه عین زمان کی افغانستان دهند دنیمی وچی په هنداره کی د «مرکزی آسیا سره دمښلو» یا داتصال ورکولو یوه هیواد یا پوله دی چی دمنطقی دیو تجارتی مرکز په صفت کیدای شی چی واوړی ، اوداځکه چی دغه هیواد دانرژی دلولی ،هوایی ترانسپورت ، داوسپنی دپټلی اودسرکونو اولویو لارو په رغونو اونښلولو سره دهند نیمی وچی ته په راتلونکی کی دتجارت له مخی ډیر حیاتی اهمیت تر لاسه کوی یا په بل عبا رت دواړه هیوادونه (چین اوهند) دافغانستان په اړه یو روښانه لړلید لری اوهغه داچی افغانستان پخپل ګاونډیتوب کی دمنطقی اود سیمی د پا ر ه دتجارت اودراکړی ورکړی یوه مساعد سیمه اواډه شمیرل کیږی.

په افغانستان کی د هند اودچین د دغه چشم انداز یا ددغه لړ لید ځنی برخي دوقوع یا د رامینځته کیدو په حال کی تر سترګو کیږی ، کوم چی اوس چینی او هندی شرکتونه خپل پانګی په افغانستان کی دیولړځا نګړی قراردادونو په کولو سره پکار اچولی دی ، دهند اود چین شرکتونه دافغانستان دطبعی زیرمو دوړی څواک دودی دعاملینو په بڼه ددی دپاره چی ځان بین المللی مارکیټونو ته ورسوی په نه ستړی کیدونکو هلو ځلو سره بخت دی ، دمثال په توګه : دچین دجیانکسی«Jiangxi» دمسو دمعد ن یوه شرکت دافغانستان دلوګر په ولایت کی د عینک د مسو معد ن د دیرشو «۳۰» کلونو د پاره د (۳) بیلیون دالرو په ارزش اجاره کړی دی اوهم دآمو سیند دتیلو په استخراج کی دیو افغانی محلی شرکت سره مشترک پا نګونه کړی دی . همدا شا ن دهندوستان دفولادو کنسرسیوم (SAIL AFISCO) دافغانستان دبامیان په ولایت کی داوسپنی دتیګی په معد ن کی څو ملیارده دالر پانګونه کړی دی .

## دپرمختګ نشتوالی : سره د هغه چی هند او چین په افغانستان کی د خپل ګډ و ګټو دلاسته راوړو د پاره سره معا دل اوبرابر تما یل اوپا ملرنه ښیي او دواړه خواوی دافغانستان دراتلونکی وضیعت دتیکاوپه موردکی په منظم بڼی دجنرال سکریتری په معا دل سره مرکی اوخبری اتری کړی اودی پریکړی ته رسید لی دی چی نوموړی

دواړه هیوادونه په افغانستان کی سره مشترک ستراتیژیکی ګټی لری اما دغه دواړه هیوادونه دخپلو مرکو اودخبرو پایلی دعامه خلکو دپوهاوی دپاره دمیدیا دلاری نشر ته نه دی سپا رلی چی دا پخپله ډیر د تاسف ځای دی او دا ځکه چی ځما یو روسیی همکار د افغا نستا ن په مورد کی دچین او هند د ګډی مرکی متن مخکی لیکلی وه اوهغه داچی د بیلګی په بڼه : کیدای شی چی دغه دواړه هیوادونه دافغانستان په مختلفو برخو اوساحوو کی سره همکا ری ولری اودغه دواړه هیوادونه دخپل دولتی تصد یو په رهبری اوپه پا نګی اچونی سره په افغانستان کی د اوږدی مودی د پاره امنیت او ثباط خوندی کړی کوم چی دافغانستان ټیکا و پخپله دچین اودهند دپانګوالو هغه ستونزی له مینځه وړی یا حداقل ته رسوی کوم چی اوس په افغانستان کی دهغه ستونزو سره لاس په ګریوان دی لکه دعینک دمسو په معد ن کی نا امنی ، یا په بامیا ن کی داوسپنی دتیګو منسوخ شوی قوانین اویا هم په آمو دریا کی دزیربنایی تا سیسا تو دپاره دحمل اونقل ستونزی .

دواړه هیوادونه په ډیر پراخه بڼی سره دمنطقی دطرحی او دعمل دنوښتونو په لټه کی دی لکه دآسیا په زړه کی د ډول ډول بانکونه ایجادول ، اودآسیا دتوسعوی دبانک دپروژي نوښت هغه څه دی چی هیڅ یو لوری لاتراوسه یو د بل سره د هماهنګی یا همغاړیتوب هڅی اواند نه دی سره ترسره کړی او یواځی ټول دغه طرحی دیو وړاند یز په بڼه دکاغذ په مخ کی پا تی دی .

هند دشانګهای دګډهمکاریو په سازما ن کی دغړیتوب دغوښتنی موضوع وړاندی کړ کوم چی دهغه غړی هیوادونه ددوشنبی په ښار کی سره کلنی غونډه کول نو په دی وخت کی دسپتمبر په اوایلو کی تاجکستان خپل لمړنی ګام اوچت کړل او دواړه هیوادونو (هند اوچین ) ته بلنه ورکړ چی دواړه خواوی دمنطقی داقتصاد پیاوړی کیدو اود امنیت پرمسلی باندی خپل همکاری اوګډی مرستی ترسره کړی . سره دهغی چی هندوستان له اوږدی مودی څخه په پټه دشانګهای دګډو همکاریو د سا زمان غړیتوب تر لاسه کړی وه کوم چی دهلی له هغه څخه وروسته په مرکزی آسیا کی د اقتصا د دلاپیاوړی کیدو اودامنیت پرتوسعه باندی دخپل چینیای سیال په ملاتړ هڅی اواند پیل کړ او دپاکستان له خوا په دی مسا له کی د کوم مخا لفت سره مخا مخ نشو . حال داچی پاکستان مخکی نه غوښتل چی هند دمرکزی آسیا ما رکیټونوته لاس رسی پیدا کړی اویا یی نه غوښتل چی خپل لوژیستکی لاری چی هند په افغانستا ن کی پا نګوالی وکړی دهغی مخی ته خلاصه پریږدی . دبلی خوا څخه دا تصادفی نه وه چی ددوشنبی په ښار کی دشانګهای د غونډی په حاشه (بغل) کی د «TAPI» دګاز د پایپ لین دپروژی پرسر کوم چی له ترکمنستان څخه ګاز هند ته دهغه هیواد دانرژی دتامین دپاره لیږدول کیږی تر بحث او مداکری لاندی ونه نیول شی اود هیوادونو د ما لیا تی صندوقونو د کمزوری او شکنن ترانزیت پر موضوع باندی لکه دافغانستان د شکنن حمل ونقل

پرموضوع باندی خبری اتری ونشی ، په هر صورت که دغه پروسه دوام پیداکړی نو دمنطقی په سطح به دچین اود هند تر مینځ همکاری اومرستی به د یو نمونی په څیر به وغوړیږی اودهغوی سرحدی اوسمند ری اختلافات او سیا لی به بلکل له مینځه لاړ شی .

محدود مرستی : دهند اود چین دکال (۱۹۶۲) سرحدی جنګ دهغوی ترمینځ ډیر ژور بی باوری رامینځته کړ کوم چی په افغانستان کی همدغه بی باوری دهغوی ترمینځ دګډ همکاری غټه ستونزه بلل کیږی ، اما بیاهم په دی لنډ وختونو کی د هغوی ترمینځ ځنی اقتصادی دوه اړخیز اړیکی له سره برقرار شوی دی لکه د بریک [ BRICS = برازیل – روسیه – اندیا – چین ] په نها د کی .د بلی خوا څخه اوس هم د دی دواړو هیوادونو ترمینځ سرحدی نښتی کله ناکله رامینځته کیږی لکه چی په (Ladakh) چی اوس اوس دچین اود هند دسرحدی سرتیرو ترمینځ شحړه روان دی اوهند زیا ر با سی چی دپیکنګ د دښمنا نو یعنی چین او جاپان سره نژدی نظامی اړیکی ( کله چی مودی دهند لمړی وزیر اودهغه دبا ند نیو چارو وزیر د سپتمبر میا شت کال «۲۰۱۴» کی دجا پان اود وییتام دلوړ پوړی مقا ما تو سره د حسن تفاهم ملاقاتونه ترسره کړ ) برقرار کړی چی دا پخپله ددواړو هیوادونو نوی اړیکو ته زیان رسوی .

بی ویلودی پا تی نشی چی دافغانستان ننی شخړیز کشالی اودهغه ناسم امنیتی حالات هند اوچین دی ته اړباسی چی داسلامی افراطی ډلو ټپلو دتهد ید څخه دځا ن دژغورنی په مقصد یودبل سره خپل اړیکی سمی کړی ځکه چی دغه دواړه هیوادونه په شریکه سره دهمدی اسلامی اورپکو تر تهد ید لاندی دی اوپه دی دلیل ددی ضرورت لیدل کیږی چی نوموړی هیوادونه د خپلو تر مینځ د حسن نیت اړیکی تامین کړی او خپله سیمه دتهد ید څخه وژغوری نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره چین دخپل غربی پولو دخوندی ساتلو په اړین پخپل خارجی مسالمت آمیز سیاست کی دعدم مداخلی پا لیسی پخپلو کولو سره دهغه پنځه اصل ته ځای ورکړی او په دی هڅه اواند کی دی چی دغه پنځه اصل پخپله پلی کړی یا دهغه دپلی کولو دپاره د نورو سره شریکه وجهه پیداکړی دا هغه پالیسی دی چی دهغه په رڼا کی تقریباً یوه لسیزه کیږی چی نا تو په یوه لویه ډنډ اوباتلاق کی بند پا تی دی ، د بلی خوا څخه چین خپل بی میلی د امریکی اود نا تو دسرتیرو اودنظامیانو پاتی کیدنه وروسته د(۲۰۱۴) څخه په افغانستان کی په دی بهانه چی هغوی افغانی ملی پولیس ته روزنه اوښونه ورکوی وښودل اوپه همدی شان پیکنګ د افغانستان داردو دما لی اود بوجوی لګښتونو په اړین چی دافغانستان د پوخ دهوای قوتونو په بیا رغونه اودامنیت په براقرارولو کی وروسته دایساف دقوتونو دوتلو څخه تقریباً (۲,۵) بیلیون دالر ته ضرورت دی ځان چُپ نیولی اودخاموشی سیاست یی غوره کړی دی.

هند دچين په پرتله دافغانستان پر امنيتي ناسم موجوده حالاتو باندی زيات فکر کوی اودهغه په اړخ کی نه داچی دافغانستان داردو پر ما لی لګښتونو باندی انديښمن نه دی بلکه دهند ډيرغټ تشويش خدای دی نکړی دافغانستان دسقوط اود انقراض موضوع دی. په هر صورت په دی نه چندان ليری وختو کی دهلی دافغانستان دمخکينی جمهور ريس حامد «کرزی» د يو اوږدی مودی غوښتنی سره مامخ شو اوهغه داچی هندوستان بايد دافغانستان د ملی اردو د پا ره له روسی څخه دروند يا ثقيله نظامی تجهيزات وپيری دهغه پيسی روسی مقاما تو ته تا د يه اودافغانستان د شمال له لاری څخه بی له دی چی دپاکستان دطريقه انتقال شی د افغانستان داردو په اختيار کی واچوی لکه چی يو وخت مخکی هندوستان دطالبانو پر ضد خپل شمالی متحدينو ته له روسيی څخه نظامی تجهيزات رابرابرول . بی ويلو دی پا تی نشی چی هندوستا ن په افغانستان کی د مخکينی شوروی اتحاد دموجوديت په دوران کی دافغانستان د يبا روغونی په روند کی دروسانو سره ګډ کار کول اودهغه له جملی څخه يوهم دهغه افسرانو او د ځانګړی افغانی صاحب منصبانو روزنه دهندوستان په دننه کی کی وه کوم چی د افغانستان د حربی فايريکی د پا ره ماهران اومسلکی پرسونل روزل.

بی ويلو دی پا تی نشی چی دواړه هيوادونه يعنی نه چين اونه هم هند دخپل اقتصادی سترا تيژی روښانه لړليد دافغانستان په راتلونکی شرايطو کی ديو اساسی اومهم عنصر په بڼه سره نه وينی ، چينا يی تحليل کونکی په ډير شتاب زد ګی سره دی ټکی ته اشاره کوی چی دوريينمن لاری اقتصادی کمربند باندی کوم چی که دافغانستان څخه تير شی بی ګټه ښکا ری اوپرهغه باندی ډډه نه کوی ، هغوی داسی استدلال کوی چی دګاز پايپ لين کيدای شی دهيواد په سرتاسر کی وغزول شی اودپاملرنی د وړ انرژی زيرمی او معد نی مواد کيدای شی چی دهيواد له هر ی برخی څخه ترلاسه شی . ددی تحليل سره سم هندی لوری په ورته بڼه سره داسی انګيری چی دهند اودمينځنی اسيا اودافغانستان سره تجارتی خمګنی اړيکی دجغرافياوی اناتومی په نظر کی نيولو سره يو څه ستونزمن ښکاری اوهغه داچی پاکستان د څو لسيزو د پاره ديوخنډ په بڼه ددی ډول تجارت لاره تړی نو ددی دپاره چی دغه ځمکنی تجارت ترسره شی ، ددی ضرورت ليدل کيږی چی په ايران کی دچابهار بندر پرانيستل شی کوم چی دهغه رغونه او جوړونه سل ميليون دالر مالی لګښت غواړی چی هندوستان بايد په دی مورد کی دغه مقدار پيسی پانګونه وکړی چی په هغه صورت کی دهندوستان مالتجاره به په ډير اسانی سره مينځنی اسيا او افغانستان ته انتقال شی .

او په پای کی دهند اود چين پر تعريف اوتوصيف شوی محدود ګډ و مرستو با ندی ، اوبيا دټولو په سرکی دپاکستان سره دهند پرهغه مختلف اړيکو اوروبطو کوم چی د شک اود بد ګما نی د دوام سرچينی جوړوی دسيمی د ځواکونو نقش ټاکونکی شميرل کيږی . دهلی دچين له هغه مرستو څخه کوم چی پرپاکستان باندی هستوی سلاح او

مزایل خرخوی اوتر کنترول لاندی کشمیر کی د پاکستا ن کړنی په مقابل کی خپل عکس العمل نه ښکاره کوی یا دپاکستان کړنی نه غندی قهرجن دی او د بلی خوا څخه دواړه هیوادونه یعنی هند اوچین له هغه څه نه چی پاکستان پر تروریستی شبکو باندی دکنترول لاس لری سره ډیر متفا وت او کاملاً ریښوی نظریات لری ، چین هیڅکله پاکستان بی له موجوده وضع څخه نه غا ری. چین هڅه کوی چی ددهلی او د اسلام آباد اړیکی دنوی وړاندی شوی امنیتی دری اړخیز نا ستی له لاری اوبیا او له دی نه چی دواړه هیوادونه د منطقی ددولتی تصدیو (SCO) غړی دی سره نورمال او ښه کړی.

لاکن روسیه هغه هیواد دی چی په پرلاپسی توګه سره دسیمی دآزاد تجارت اود بودجی میکانیزم نه یواځی داچی نه تایدوی بلکه دهغه په مخ خنډونه زیږوی په شمول د هغو نورو کسا نو په څیرچی په مرکزی آسیا کی د (SCO) دلاری پواسطه سره دچین اودهند چټک حرکتونه اوفعالیتو ته په سپک نظر ګوری .

کوزنی خط: چین اوهند په ډیرو زیا تو مسا یلو باندی سره سترګی په سترګی نه ګوری اما دلته په سیمه اوبیا په خا صه توګه په افغانستان کی ددواړو هیوادونو یعنی دچین اودهند مشترک ورځنی زیا تیدونکی ګټی هغوی ګډی مرستی ته را هڅوی او هغوی دی ته رابولی چی خپل مینځی شکر رنجی یوی خواته پریږدی او یودبل سره دزړه په اخلاص مرستی تر سره کړی اوداځکه چی ددی دواړو هیوادو دمرستی په رڼا کی سیمه او منطقه خپل تیکاو تر لاسه کوی اولا پسی پیا وړی کیږی اوددی عامل ګرځی چی په افغانستان کی به هم امنیت ، هوسا ینه او آرامی برقراره شی . سره له دی چی دغه دواړه هیوادونه لاتراوسه په منطقه کی دامنیت دراوستلو د پا ره خپل پوره غلاقمندی نه دی راښکاره کړی اویا په پوره ایمانداری سره ملا نه دی تړلی نو په دی بنیاد دهغوی داسی بی پروګرام هڅی به په منطقه اوسیمه کی به امنیت را نوړی اوبیا په دی ډیر لنډ وخت کی غیر ممکن ښکاری چی دافغانستان روان بی امنیتی وضع بدلون ومومی نو ددی دپاره چی په سیمه او په افغانستان کی د (۲۰۱۴) کال څخه وروسته کله چی باندی قوتونه له افغانستان څخه ووځی نوپه هغه صورت کی د سیمی د هیوادونو اودغربی نړی دامنیتی ځواکمن تړون اوتعهد کولای شی چی په افغانستان او په سیمه کی امنیت برقرار کړی چی دا بخپله یوله ډیرمهم او ضروری اقداماتوڅخه شمیرل کیږی

------------------------------------------ په درناوی